SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

څلورم کال شپږ اوبایمه ګڼه پرله پسې (۲٦٦) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د رجب المرجب (٤) د۱۳۷۸هـ ش کال د تلي دمیاشتي (۲۱) د۱۹۹۹میلادي کال د اکتوبر (۱۲)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزګـاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بگذارید.

محترم رئیس شوراي سرپرست با محترم والي ولایت لغمان ملاقات نمود

محترم الحاج ملا محمد رباني رئیس شوراي سرپرست قبل از ظهر دیروز در دفتر کار شان والي ولایت لغمان را غرض ملاقات بحضور پذیرفتند.

دفتر مطبوعاتي شوراي سرپرست به آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: طي این ملاقات محترم مولوي محمد اسحق آخند زداه والي ولایت لغمان در رابطه به چګونګي کار و فعالیت منسوبین آن ولایت که از کیفیت عالي و بهتر برخوردار میباشد به محترم رئیس شوراي سرپرست معلومات داده و از مساعي مشترك کارکنان امارتي و مردم ولایت لغمان در جهت اجراي بهتر وظایف مربوط اطمینان داد.

سپس محترم رئیس شوراي سرپرست بخاطر پیش برد و اجراي بهتر و به موقع امور مربوط آن ولایت رهنمایي سودمند و ارزشمندي ارائه نموده گفتند: هر مسؤول و منسوب امارت اسلامي افغانستان در حقیقت خادم دین مبین اسلام، مردم و کشور خود میباشند و اطمینان دارم که مردم شجاع ولایت لغمان که در دوران مقدس جهاد علیه روسها و کمونستها قربانیها و آلام و مشکلات فراوان را متقبل شدند در راه تحقق اهداف امارت اسلامي افغانستان که متضمن نیك بختي همه مردم افغانستان میباشد از هیچګونه مجاهدت و فدا کاري دریغ نمي ورزند.

د نړیوالو خبری سر چینو په حواله :

په پاکستان کی پوځ د هغه هیواد د مهمو ښارونو واکمنی په لاس کی واخیستله

د پاکستان هوایی ډګرونه، د رادیو تلویزیون ودانی او مهمی دولتي ځانګـــــی د پوځ په لاس کـی دی

د پـاکـــستان پــوځ د خـــپل مـشـر پـــرویز مـشـرف په پـلـویتـوب حــرکت کـــړی دی

بی بی سی : د نړیوالو خبری سرچینو د خبر له مخی د پاکستان پوځ پرون د هغه هیواد د ځینو مهمو ښارونو واکمنی په لاس کی اخیستی ده، ددغو خبرونو له مخی ویل کیږی چی د پاکستان پوځ د کراچی، لاهور، اسلام آباد، پیښور او کوټي هوایی ډګرونه په خپل کنترول کی نیولی، د اسلام آباد د رادیو او تلویزیون پروګـرامـونه بی ځنډولی او د مـهـمـو کـسانو تیلفونونه یی هم قطع کړی دی، لا تر اوسه د دغه پوځی حرکت اصلی موخه ځرګنده نه ده، خو ویل کیږی وروسته له هغه چی تیره ورځ د پاکستان صدراعظم نواز شریف د هغه هیواد د پوځ مشر جنرال پرویز مشرف تقاعد کـړ، نوموری پوځی خوځښت په لاره لویدلی دی او اوس جنرال پرویز مشرف له یوه بهرنی سفر څخه وروسته پاکستان ته راستون شوی دی، تازه خبرونه وایی چی په کویټه کی هم د بلوچستان د
٤ مخ

د بوي پرتمیني غونډي په ترڅ کي :

د سري میاشتي ځانګړي اوني ولمانځل شوه

د سري میاشتي د ځانګړي اووني له امله پرون د افغاني سري میاشتي د عالي پوهنتون په تالار کی یوه غونډه جوړه شوه.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په دي غونډه کي له هغه وروسته چي د قران عظیم الشان څو مبارك ایتونه ولوستل شول د افغاني سري میاشتي د عالي پوهنتون عمومي رئیس محترم حافظ سید عصمت الله عاصم د خپلي وینا په ترڅ کي د اسلامي امارت د خبر غوښتونکو هدفونو او په تیره بیا زموږ هیواد وال ته د خدمت په لاره کي د افغاني سري میاشتي د عالي پوهنتون د مسوولینو او رضا کارانو له ستړي کیدونکي هلي ځلي په ډاګه کړي.

وریسي د فدریشن او د اي سي ار سي د کمیټو استازو په وار سره له انجوګانو سره د افغانستان د اسلامي امارت د بي ساري
٤ مخ

محترم سرپرست وزارت امور داخله :

در اهداف امارت اسلامي افغانستان تبعیضات قومي، لساني و نژادي جاي ندارد

محترم ملا خیر الله خیرخواه سرپرست وزارت امور داخله دیروز در جریان صحبت با محترم استاد محمد اکبري گفت که در اهداف امارت اسلامي افغانستان تبعیضات قومي، لساني و نژادي جاي ندارد و تمام اقوام ساکن کشور با [illegible]

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : محترم ملا خیر الله خیرخواه در جریان ملاقات که با محترم استاد محمد اکبري، محترم مولوي محمد اسلام محمدي والي بامیان، محترم مولوي حشمت الله رئیس اداري آن ولایت و محترم مولوي بسم الله ولسوال کهمرد بامیان در رابطه برنامه و اهداف امارت اسلامي وسایل امنیت،
ص ٤

چګونګي کار و فعالیت فابریکات سمنت غوري و نساجي پلخمري بررسي ګردید

فابریکه نساجي پلخمري روزانه در حدود یکصد هزار متر تکه تولید میکند

چګونګي کار و فعالیت فابریکات سمنت غوري و نساجي پلخمري مورد بررسي قرار ګرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : محترم محمد اعظم علمي معین وزارت معادن و صنایع که
ص ٤

حماس به عملیات ضد اسرائیلي خود ادامه میدهد

حماس یا جنبش مقاومت اسلامي فلسطین دیروز اعلان کرد که به عملیات ضد اسرائیلي خود ادامه میدهد.

شیخ احمد یاسین رهبر این جنبش گفت: که اعضاي این جنبش مبارزات خود را براي آزادي فلسطین ادامه میدهند.

رهبر جنبش مذکور تاکید کرد که آتش بس میان مبارزین این جنبش و اردوي اشغالگر اسرائیل وجود ندارد.

ډاکتر عبدالملك کاموی :

ما د ډکتورا مرحله د نهو کالو پر ځای په دریو کلنو کی بشپړه کړه

شریعت : ځوان طالب العلم ډکتور عبدالملك کاموی د رخصتیو نه په ګټه اخیستنی د عمر له هیواد د وطن ته راغلی دی، دا چی نوموری د عمر په ۲۹ کلنی کی په دی بریالی شویدی چی د مصر د الازهر پوهنتون څخه په اسلامي علومو کی د ډکتورا تر درجې ځان ورسوی زموږ د پاملرنی وړ وګرځیده او په دی لټه کی شوه چی د هغه سره مرکه ولرو چی ستاسو پاملرنه د مرکی متن ته را اړوو.
٤ مخ

زموږ ساختماني پروژې دهیواد داوبو رسولو، برېښنااوکرنی په برخو کې ستراقتصادي ارزښت لري

د اوبو او برېښنا دانجینري خدماتو (واپیکا) مؤسسي رئیس محترم مولوی عبدالقیوم

شریعت : درنو لوستونکوا له بیلابیلو امارتي ادارونه دریوتونو دبرابرولو په ترڅ کي داځل زموږ خبریال د اوبو او برېښنا دانجینري خدماتو (واپیکا) مؤسسي له رئیس محترم مولوي عبدالقیوم سره دیوي لنډي کتني اوخبرو اترو په ترڅ کي د هغه ریاست د اړوندو چارو او فعالیتونو په هکله معلومات غوښتي او دغه ریوټ یې برابرکړی چې دادي خپروو یې :

محترم رئیس صاحب ځرګنده کړه : داوبو او برېښنا دانجینري خدماتو (واپیکا) مؤسسه یو عمومي ریاست دی چې [illegible] دوه اداري اوڅلور بیلابیلو برخو کې فعالیت لري. اداري معاونیت خپلي اړوندي
۲ مخ

یك تن کارمند اداري ملل متحد بقتل رسید

یکتن کارمند اداري غیر نظامي سازمان ملل متحد شب ګذشته در پرستینا مرکز کاسووا با ضرب ګلوله به قتل رسید.

این کارمند سازمان ملل متحد فقط چند ساعت بعد از آغاز کار خود در آن ایالت بقتل رسید. این اولین بار است که یك کارمند سازمان ملل متحد در یك حمله قصدي در کاسووا کشته میشود.

به سلسله راه اندازی مسابقات علمی بین مدارس :

مسابقات علمی بین مدارس ابتدائیه، متوسطه و ثانوی ولسوالی چهار آسیاب برګزار شد

شریعت : بمنظور ارتقاء سطح سویه و انکشاف ذهنی طلاب مدارس تعلیمات عمومی، سلسله مسابقات علمی تشویقی در بین طلاب مدارس ابتدائیه، متوسطه و ثانوی ولسوالی چهار آسیاب به راه انداخته شد.

خبرنګار اعزامی ما خبر میدهد : در اجتماعیکه بدین منظور در محوطه مدرسه ثانوی حضرت اسامه بن زید «رض» واقع مرکز چهار آسیاب برګزار ګردیده بود در آن بر علاوه از اراکین و مسؤولین امارت اسلامی طالب العلمان و استادان مدارس و علماء، جید آن منطقه اشتراك ورزیده بودند.

محفل با تلاوت آیاتی چند از قرآن عظیم
ص ٤

د کابل ښار د دریمی ناحیې په مربوطاتو کی :

٥۲٤۹ صحی تشنابونه جوړ شوی

ډیر ژر به په دغه ناحیه کی د کورونو د بیا ودانولو پراخه پروژه په کار پیل وکړی

محترم عزیز الله «مجددی»

شریعت : قدرمنو لوستونکو ! د کابل ښار په مختلفو سیمو کی د بیا ودانولو د چارو له ځرنګوالي څخه ستاسی د معلوماتو په خاطر موږ د ا ځل د کابل ښاروالي دریمی ناحیې له رئیس محترم عزیز الله مجددی سره لنډی خبری کړی چی دا دی تاسی قدرمنو ته یی وړاندی کوو.

محترم مجددی د دریمی ناحیې د وضعی په هکله دارنګه وویل : د کابل ښاروالي دریمه ناحیه چی د تیر حکومت د وروستیو جګړو په ساحه کی پرته وه چی ددغه بی ځایه جګړو په نتیجه کی د نوموړی ناحیې په شاو خوا کی ټول د اوسیدو کورونه تجارتی فرهنګی او تعلیمی او تخصیلی ساحی په کنډوالو تبدیلی شوی دی ولی خوشبختانه چی د اسلامی تحریک د پیاوړو او سرښندونکو قوتونو په رسیدو سره نوموړی ناحیه بیرته جوړه او خپل اصلي ځای ته نقل شوی او ددی تر څنګ د مرستندویه کونکو موسسو څخه غوښتنه شوی تر څو ددغې ناحیې د بیوزلو اوسیدونکو سره مرسته وکړی چی ددغې غوښتنې سره یو ځای د IAM، جرمن اګرو اکشن، GAA او هیئات او پاملرنی موسسو ددغې ناحیې له اوسیدونکو سره خپلی مرستی کړیدی او خپل اساسي پرلیرلي [illegible]
٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

تـروریست څــوك او تــروریزم څه دی ؟

له کومی ورځی را په دی خوا چی په الهی نصرت او د افغانستان د مجاهد ولس په میړانه په افغانستان کی الهی او اسلامی نظام نافذ شویدی نو په نړیوال ښکیلاک او د اسلام په دښمنانو لړزه راغلی ده او له هماغی ورځی را هیسی یی هر اړخیزی هڅی او هلی ځلی پیل کړیدی چی د اسلامی نظام نیالګی وباسی دا حقیقت دی چی نړیوال کفر د اسلامی نظام د مخنیوی لپاره له هری وسیلی او حربی څخه کار اخستی دی او اوس یی هم اځلی کله ورته د بشر حقوق پلمه کړی، کله د ښځو حقوق، کله مخدره مواد پلمه کړی او کله د حکومتی تشکیل انحصار، اوس یی دا دی بله لویه پلمه پیدا کړیده چی هغه له تروریزم څخه عبارت ده. د اسلامی نظام مخالفین په اسلامی امارت باندی تور لګوی چی په نړیوال تروریزم
۲ مخ

اطلاعیه شاروالي کابل

به اساس امضاً پروتوکول که بین اهالي قراء کته خیل، علي خیل، قلعه شاه محمد، قلعه ګل محمد، بندي خانه بکه درخت و شاروالي کابل صورت ګرفته است قرار است بخاطر اعمار شهرك جدید کابل بین خواجه رواش و پل باریك آب از طرف شرق جوي وزیر الي دو کیلو متري دو طرفه سرك کابل بګرام پلانهاي شهري در ساحات متذکره آغاز ګردد.

اشخاصیکه در زمین هاي قراي مذکور بعد از صدور حکم ۳۰۱٥ مؤرخ ۱٤۱۹/۸/٤ هجري قمري مقام محترم شوراي سرپرست معاملات خرید و فروش انجام داده باشند
ص ٤

ملګرو ملتونو بندیزونو له کبله :

نیم ملیون عراقي ماشومان مړه شویدي

د ملګرو ملتو د سازمان د یونیسف اداري په عراق کي د ماشومانو د مړینی په باب رپوټونه تر ټولو لانـدي نیولي دي. خبري سرچینو رپوټ ورکړی چی د تیر اګست په میاشت کي د یونیسف یوي سروي وښودله چی په عراق باندي د ملګرو ملتو د سازمان له خوا له اقتصادي بندیزونو وروسته لږ تر لږه نیم
ص٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : طیار «کاکړ»

دبیرې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری

پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

جاري حساب : ٤٠٣٨٥/۷ د افغانستان بانک مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

کی لاس لری او یا د دوی په اصطلاح د افغانستان د اسلامی امارت تر کنترول لاندی ساحو کی د تروریزم د روزنی کمپونه په فعالیت بوخت دی. که څه هم نړیوال اوس ددی پلمو په ماهیت او اصالت ښه پوهیږی او ډیر کم له حالاتو څخه ناخبره کسان به داسی وی چی په دی پروپاگندیو باور وکړی ځکه په اسلامی امارت د پروپاگند کوونکو حکومتونو او حلقو څهری او اهداف هر چا پیژندلی دی او ټول په دی پوه شوی دی چی خبره د تروریزم نه بلکه خبره په افغانستان کی د حاکم اسلامی نظام ده او له اسلامی امارت سره د ښمنی اصلی انگیزه هم د اسلامی شریعت نفاذ ده خو ښیا هم که دا خبره لږ وڅیړل شی نو د تور لگوونکو حلقو څیری به نوری هم رسوا شی

دا یو منل شوی اصل دی چی څوک چی په چا دعوه کوی که ددعوی موضوع هر څه وی نو باید د خپلی دعوی لپاره ثبوت ولری او بی ثبوته دعوه به هغه څوک کوی چی سالم نه وی او نه نړیوالی محکمی بی ثبوته دعوی ته څه اعتبار ورکوی.

اسلامی امارت هم څو څو ځله اعلان کړیدی چی که څوک وایی چی له افغانستان څخه تروریستی اعمال تر سره شویدی نو د خپلی دعوی د اثبات لپاره دی دلایل راوړی او د افغانستان د اسلامی امارت ستره محکمه به هغه څوک محاکمه کوی چی تروریزم پری ثابت شی خو هیچا هم نه کومه دعوه وړراندی کړله او نه هم کوم ثبوت او دلیل. له دی څخه دا نتیجه اخستلی شو چی د تروریزم مدعیان هسی پلمی کوی او د خپلی دعوی لپاره هیڅ ثبوت نلری.

تروریزم او بی له شرعی لامله د انسان وژل او یا تر هول د اسلام له نظره هم سخت حرام دی حتی د داسی خلکو لپاره بی سخته سزا هم ټاکلی ده اسلام وایی چی که څوک په ناحقه کوم څوک ووژنی نو دی به هم ورسره وژل کیږی او که ټپی بی کړ نو دی به هم همدغه ډول ورسره ټپی کولی شی او اسلامي امارت همدا قانون نافذ کړی هم دی نو اسلامي امارت به په هیڅ ښه د اسلام له اصولو څخه تیری ونکړی. همدا راز اسلامی امارت په خپله څو څو ځله اعلان کړیدی چی چمتو دی د تروریزم د مخنیوی لپاره له نړیوالی ټولنی سره همکاری وکړی او په خپله بی په افغانستان کی هم د تروریزم نوغی له بیخه ویستی دی.

دا خبره هم باید لږ روښانه شی چی د تروریزم مدعیان باید د جهاد او تروریزم تر منځ توپیر وکړی تروریزم د اسلام له نظره مردود او منفور دی او جهاد بیا یوه مقدسه دینی فریضه ده نو مجاهدینو ته باید په هیڅ ډول د تر وروستانو القاب ورنکړی شی. او که څوک مجاهد ته تروریست او جهاد ته تروریزم وایی نو په ښکاره ډول د اسلام د اساساتو او اسلامی شعایرو سپکاوی کوی. او ښبی او ښبانی داسی څرگندوی چی د تروریزم د اوسنیو مدعیانو هدف هم همدا مجاهدین دی.

دلته باید دا خبره هم روښانه شی چی افغانستان چی په خپله تروریزم ځپلی او دا یوویشت کاله کیږی چی د تروریزم په حلاجی کی زیښبل کیږی له هر چانه ډیر د تروریزم مخالف دی لکه عالیقدر امیر المومنین چی ویلی دی افغانستان او د افغانستان اسلامی امارت په خپله د تروریزم ښکار شوی دی آیا د روسانو له خوا د افغانستان د مسلمان ولس قتل عام او د لسگونو زرو بی گناه خلکو شهادت تروریزم نه دی؟ آیا د یو غیور، با شهامته او په وطن مین ولس بی شعوره د پردیو نوکر او بی رحمه دښمن ته وسله او باروت ورکول چی دا ملت پری تباه کړی تروریزم نه دی ؟ آیا په یو جنگ ځپلی : نیستمن او خوار ملت اقتصادی بندیز او د بشری مرستو بندول تروریزم نه دی ؟ آیا د یو داسی هیواد چی بی له شکه د همدی هیواد د بچیانو د قربانی او سرښندنی په برکت یو هیواد تن هسکی سترگی او بی حریفه گرځی او په ټوله معنی بی محسن وگڼل شی بی موجبه ، بی ثبوته کروز توغندی توغول تروریز نه دی ؟

که فرض کړو چی په خپل هیواد کی د یو بل هیواد مخالفینو ته پناه ورکول تروریزم دی نو د تروریزم مدعی هیوادونه دی ووایی چی په کوم هیواد کی د افغانستان د اسلامی امارت مخالفین او د افغانستان د مسلمان ولس د لکونو اروا او قاتلین نشته دی؟

په پای کی باید وویل شی چی د تروریزم مدعی هیوادونه که له اسلامی امارت سره څه زړه بداوی لری نو د خبرو او تفاهم له لاری یی باید حل کړی د زور او فشار وخت نه په افغانانو راغلی او نه به ان شاء الله په راتلونکی کی راشی او دا ډول پلمی به دوی په نړیوال کچ نور هم بی اعتباره کړی .

ایدز ۷
بلای عصر حاضر

ترتیب کننده : وحید احمد «هارون»

فعلاً در بسیاري از بانکهاي خون ایالات متحده امریکا پروگرامهاي خاص روي دست گرفته شده که قبل از گرفتن خون از اهدا کننده گان، خون آنها مورد استجواب دقیق قرار گرفته و در خلال پرسشها کوشش میشود، دانسته شود که آیا شخص معتاد به مواد مخدر زرقي همجنس گرا است یا نه ؟ و یا لا اقل گاهي با این چنین اشخاص در ارتباط بوده و یا خیر ؟ بعضي مردم فکر میکنند که دادن خون هم شاید باعث مصابیت شخص اهدا، کننده خون گردد اما این یك مفکوره نادرست بوده، صرف در حالاتي که سوزن هاي نا پاك و ملتن به ویروس براي گرفتن خون استعمال شوند احتمال مصابیت وجود خواهد داشت.

تداوي ایدز :

طوریکه قبلاً نیز تذکر داده شد که تا حال کدام تداوي که صد فیصد موثر بوده و مریض را از مرگ نجات هد وجود ندارد هدف از تداوي فعلي کاستن ناراحتي مریض و طولاني نمودن جان مریض تا حد امکان است. لهذا تداوي مصابین ایدز به چهار بخش تقسیم میشود.

۱- تداوي انتانات فرصت طلب و امراض خبیثه (سرطاني) .

۲- جلوگیري از تکثر بیشتر HIV در وجود شخص مصاب به ایدز .

۳- تنبیه عوامل خونساز یا HAEMOPOITIC در زد شخص مصاب به ایدز .

٤- وقایه و پیش گیري از مصاب شدن به انتانات فرصت طلب

۱- تداوي انتانات فرصت طلب و امراض خبیثه (سرطاني) : در این صورت امراضي مانند سینه بغل، Ka-poisis Sacwma . Toxoplesmo-sis و التهاب شبکه چشم که در اثر Cytomegulovirus بوجود میآید باید بصورت دوامدار تداوي شوند. براي تداوي سینه بغل از ادویه جات چون Co-trimoxazol , Dapson, Prima-quine , Clindamycin بصورت مداوم استفاده بعمل میآید. بر علاوه از Corticosteroid و ادویه هاي ضد سرطان نیز کار گرفته میشود.

۲- جلوگیري از تکثر بیشتر HIV : تجارب نشان داده براي تداوي مصابین ایدز که از ادویه ضد ویروس کار گرفته شده، حالت شان نسبت به آنعده مریضاني که این ادویه استعمال نکره اند خوبتر بوده و مدت بیشتري زنده مانده اند، یکتعداد از این ادویه جات عبارتند از Zidovudine, Didanosine که قبل از غذا روز یك مرتبه گرفته میشوند. و تکثر ویروس را نهي مي کنند، بر علاوه ادویه جات چون Zaleitabine و Stavu-dine و غیره نیز موثر هستند.

۳- تنبیه عوامل خونساز یا Heamat-opoietic : تمام کریوات سفید و سرخ خون انسان در مغز استخوان ساخته میشوند چون کریوات سفید خون براي سیستم دفاعي وجود خیلي ها ضروري هستند، بر علاوه کریوات سرخ براي انتقال آکسیجن به حجرات و اعضاي مختلفه بدن و هم جلوگیري از کم خوني ضروري هستند پس به اهمیت آنها نزد مریضان ایدز میتوان پي برد به این منظور از ادویه هایي استفاده میکنیم که تولید کریوات سفید و سرخ خون را توسط مغز استخوان ازدیاد بخشیده و حالت صحي مریضان را بهبود بخشد از آنجمله میتوان از Epoeti-nalfa در نزد مصابین ایدز استفاده نمود که مصاب کم خوني هستند بر علاوه براي تنبیه تولید کریوات سفید از Filgrastim و Sargramostim استفاده میشود.

٤- وقایه انتانات فرصت طلب : افرادي که زیاد تر مصاب سینه بغل میشوند باید بر علاوه ادویه که در اول ذکر شد از یکتعداد دوا هاي دیگري نیز استفاده نمایند از آنجمله Pentamidine انتاني و یکتعداد انتي بیوتیکهاي دیگر مانند Cortrimoxagole و Dapson .

د مني موسم او د ماشومانو روغتیا

داکتر محمد نذیر «احمدزی»

دا چی د منی موسم د رارسیدو په درشل کی ده او د چاپیریال په اقلیم کی خامخا څه بدلونونه رامنځته کیږی . د مثال په ډول هوا یو څه سړیږی او د تیزو بادونو له کبله گردونه او خاوری د دوبی د پستو او تودو ورمو ځای نیسی نو ښایی چی د چاپیریال د هوا ددی ناڅاپی بدلون په مقابل کی چی د انسان په روغتیایی اغیزیز نه دی، یو څه ژر غور نیز تیاری ونیسو. خصوصاً د ماشومانو روغتیا او ژغورنه باید لازمی وبولو، دا ځکه چی ماشومان د گلونو په شان تنکی او ښکلی دی لکه څنگه چی د منی بادونه د گلانو ښکلا له منځه وړی او تو کوی بی، همدا سی د ماشومانو پر روغتیا هم سمدستی بد اثرات پریباسی او پر ناروغیو بی اخته کوی . لکه چی ومو ویل په منی کی هوا سړیږی او گردونه او خاوری په تنفسی هوا کی زیاتیږی ، که ماشومان له سړی هوا او گردونو څخه خوندی ونه ساتونو تر هر څه د مخه بی پر تنفسی نظام بد اغیزه کوی د سړی هوا اخستل د ماشوم د پوزی د ننه جوړښتونه چی د هواد تودیدو او د گرد او خاورو د جذبیدو خاصیت لری زیانمن کوی او وچوالی په کی راولی له بلی خوا گرد او خاوری د پوزی د ننه د مخاطی نازکی پردی پر مخ پریوځی، څرنگه چی نوموړی مخاطی پردی د سړی هوا له کبله وچی شوی او له کاره لویدلی وی نو نشی کولای چی د گرد او خاورو په

مقابل کی دفاعی فعالیت وکړی او هغه بهر ته ولیږدوی ، په نتیجه کی التهابی عملیه ددفاعی غبرگون په څیر فعاله کیږی، د پوزی دننه دیوالونه پړسیږی، سوروالی پیدا کوی، تودوخه بی لوړیږی ، درد منځته راځی او وظیفه بی زیانمنه کیږی، په دی ترڅ کی میکروبونه خصوصاً ویروسونه چی د گردونو او ناپاکی هوا په واسطه پزی ته ننوتی په التهابی برخو کی ځان ځای پر ځای کوی او د ناروغی د منځته راتگ لامل گرځی ، چی ډیره معمولی ناروغی بی ریزش یا والگی ده ، تبه منځته راځی، پزه سوځی ، پرنجی پیدا کیږی او له پوزی څخه د اوبو بهیدل پیل کیږی، دا بهیر که ژر تر ژره د روغتیایی اصولو پواسطه تر اغیزی لاندی را نه وستل شی نو التهابی بهیر شا او خوا برخو ته غزیږی، د پوزی د شاتنی سوری Choane له لاری ستونی ته ځی . له ستونی څخه د Eustachian tube له لاری منځنی غوږ ته او له منځنی غوږ څخه، Retreo sqnama Fissure (په ماشومانو کی) د سر کوپړی ته دننه کیږی، هلته د ماغی مردار دانی د مغزو د پوښ پاړسوب او نوری مرگونی ناروغي منځته راوړی او یا هم له منځنی غوږ څخه د غوږ تر شا د هوایی حنجرو او قضا د التهاب سبب

گرځی Mastoiditis کیدی شی له منځنی غوږ څخه میکروب د ننی غوږ ته لاړ شی او هلته د اوریدو او د وجود د موازنی د ساتلو نظام گډوډ کړی او یا هم له منځنی غوږ څخه د غوږ د پردی د څیریدو له کبله بهرنی غوږ ته د ناروغی مخه راوگرځوی همدارنگه نوموړی ناروغی په ستونی کی د تانسلونو یا لمفاوی غوټو د ناروغیو د نوموړی برخی د مرداردانو Absceses او د حنجری د التهاب چی بوه مرگونی ناروغی ده سبب وگرځی یا سږو ته د میکروب له رسیدو سره د سینه بغل او نورو خطرناکو ناروغیو لامل شی او یا هم د پزی له لاری د مخ او سر د کوپړی په هډوکی کی موجود و هوایی خالیگاو ته چی هغه هم په تنفسی نظام کی ارزښتناک وظایف تر سره کوی، ورسیږی او د هغو د ناروغیو سبب شی البته د وخت په تیریدو سره په پورتنیو یادو شویو برخو کی ډول ډول نور میکروبونه هم د ناروغی بهیر ته ځان ور داخلوی او د ناروغی د سختوالی او د نورو ناروغیو د منځته راوړلو باعث گرځی لنډه دا چی که پام ونشی نو له یوی ډیری ساده ناروغی څخه ستر ستر افتونه منځته راځی او باید دا هم ووایو چی منځته راغلی ناروغی یواځی په ناروغ ماشوم کی نه پاتی کیږی بلکی د توخی، پرنجی او ساه کښلو له لاری چاپیریال ته خپریږی او په لسهاو نورو ماشومان هم اخته کوی.

که څه هم د منی په رارسیدو سره ټولو ته لازمه ده چی د سړی هوا او د وړو له ناوړه اغیزو څخه ځان وژغوری خو د ماشومانو روغتیا ته پوره پاملرنه حیاتی ارزښت لری، دا ځکه چی د لویانو د فاعی نظام یو څه ځواکمن او پر مخ تللی ده او دا ساده والگی بی ډیر نشی ځورولی، خو ماشومان چی تنکی او له ډول ډول میکروبونو سره نا آشنا وی د مرگ تر پولی پوری بی رسولای شی .

ددی لپاره چی گران او ښکلی ماشومان مو له یادو شویو مصیبتونو څخه وژغورل شوی وی لاندی ټکی په یاد کی ولری : ماشوم ته ډیری سړی او یه مه ورکوی، د سړی هوا سره د لمگیدو څخه بی خوندی ساتی خصوصاً سهار مهال چی هوا زیاته سړه وی، له گرد او دورو څخه بی لری ساتی، ناروغو ماشومانو او یا لویانو ته بی نژدی مه ورپریږدی ، سگرت مه څکوی ناروغ کس دی ماشوم ته مخامخ نه ټوخیږی او ماشوم دی نه ښکلوی و لو که هر څومره پری گران هم وی !! د ماشوم له پیدا ښیت سره سم بی واکسین کول خپل مسوولیت وگڼی او تر وسه پوری ماشومانو ته ښه خوراک او مینځل شوی پخی تازه میوی ورکوی، که خدای «ج» مکړه ماشوم مو په والگی اخته شو نو تود بی ساتی ، له دوړو او سگرتی کسانو سره بی مه مخامخ کوی، په رڼا او پراخه هوا لرونکی خونه کی بی وساتی، ښه خواړه ورکوی، شیدی، چای، یخنی، د وریجو اوبه او یا هم د میوو اوبه ښی پریمانه ورکوی کبه پوه شوی چی تبه لری او یا ناروغی بی مخ په زیاتیدو ده ژر تر ژره بی نژدی روغتون یا معالج ډاکتر ته ورسوی.

زمونږ ساختماني پروژي د هیواد د اوبو رسولو ، برېښنا او کرني په ...

اداري چاري پرمخ بیایي اوپه فني معاونیت کي څلورآمریتونه هریو:ودانیوته داوبورسولو دتأسیساتو دطرحي او دیزاین آمریت ، دبرېښنا دچارودطرحي اودیزاین آمریت، د سروي اومطالعاتو عمومي امریت اودتخنیکي اسنادوآمریت فعالیت کوي .البته هرآمریت خپل ځانګړي مسلکي کارونه ترسره کوي .باید زیاته کړم چي دمزارشریف په ښارکي هم زمونږ یوه نماینده گي فعاله اودهیواد په شمالي ولایتونو کي داوبواوبرېښنادسروي کولوچاري سرته رسوي.

ده زیاته کړه :داوبواوبرېښنادانجینیري څدماتو (واپیکا) مؤسسه داوبودلویو او وړو بندونو لکه دبرېښنا د شاړوځمکود خړوبولو ،زابرونو ،کانالونو ، ویالو ،ژوروڅاګانو ،اوځښاك داوبو ترڅمکي لاندي زیرمودسروي طرحي اودیزاین چاري په غاړه لري .دغه رازدبرېښنادلوړاوټیټ ولتاژمزیو ،هایدرولوجي ، خاوره پیژندني ، اوبرمه کاري چاري سروي کوي اولابراتواري نتایج بي روښانه کوي البته باید زیاته کړم

چي د اوبو اوبرېښنا اوکرني په ساختماني پروژو کي فعالیتونه اونقش ستراقتصادي اوصناعتي ارزښت لري .

دي زیاتوي :زمونږ دسروي دانجینرانو یوه ډله تیرکال دکندهارښارته واستول شوه ترڅودهغه ولایت نوي ښاري شبکه سروي اودبیارغونې په چاروکي مرسته وکړي . البته دي ډلي انجینرانو په ساختماني چاروکي په مقیاس برابري نقشي جوړي کړي اوکاریي لاتراوسه پوري دوام لري .دهیواد په شمالي سیموکي هم دګڼ شمیرپخوانیو اونویو پروژو دبیارغونې او جوړولو دسروي کولو کار په پلان کي لرو چي دامنیتي حالت دښه کیدوپه

صورت کي به انشاالله ډیرژربه عملي اقدام لاس پوري کړو .دغه رازمو دلوگر په ولایت کي د مغل خیلو اومحمد آغي دبندونو نقشي **برابري کړي اولوړو چارواکو ته موسپارلي دي .**

په پاي کي محترم مولوي عبدالقیوم څرگنده کړه چي مونږدخپلواړوندو چارواوفعالیتو د ښه سمون اوسمبالتیا لپاره تکړه ،مجربواومسلکي انجینرانو اودغه رازتخنیکي وسایلو او سامان آلاتوته ډیره اړتیالروترڅو دسروي اوتوپوگرافي ، برمه کاري ، اولابراتوار په ځانګوکي لازمه ګټه اوکارځني واخلو.

د افغانستان په اړوند د سیاسی، پوځي اقتصادی او فرهنگی پیښو کرونولوژی (۵)

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر له نهمی او د ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان د میاشتی له اوومی نه
تر ۱٤۲۰ هـ ق کال د جمادی الاخر تر ۱۸ می او د ۱۳۷۸ هـ ش کال د میزان تر شپږمی نیټی پوری

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۲ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د حوت په ۲۸ مه د اسلامی امارت مخالفینو په سر پل، غوربند او بامیانو کی د طالبانو په سنگرونو حملی وکړی اخو په شا او تمبول شول.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په لومړی نیټ د ملگرو ملتونو استازی اخضر براهیمی له ترکمنستان څخه کابل ته راغی او په کابل کی یی د سرپرستی شورا د رئیس الحاج ملا محمد ربانی سره د عشق آباد د لاسلیک شوی موافقی په عملی لارو چارو وغږیده.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۱ مه په بامیانو کی د اسلامی اردو او مخالفینو تر منځ سخت جنگ روان و.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ٦ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۳ مه د ملگرو ملتونو استازی اخضر براهیمی په شمال کی د مخالفینو د مشرانو سره د عشق آباد د لاسلیک شوی موافقی په باب خبری وکړی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ٦ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۳ مه په هلمند کی په یو تن غله باندی شرعی حد او په پلخمری کی په یو تن قاتل باندی د محکمی له حکم ورسته د قصاص حکم عملی شو.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ٦ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ٤ مه عالیقدر امیر المومنین د ملگرو ملتونو استازی اخضر براهیمی په کندهار کی د خپل کار په دفتر کی د کتنی له پاره ومانه. عالیقدر امیر المومنین ته اخضر براهیمی په شمال کی د مسعود سره د خپرو په باب معلومات ورکړل. عالیقدر امیر المومنین اخضر براهیمی ته وویل چی د عشق آباد د موافقی د لاسلیک نه مخکی مسعود ما ته تیلفون وکړ او وی ویل چی: زه شرافتمندانه تسلیمیږم. او له همدی امله مو د عشق اباد خبری پیل کړی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ٦ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ٤ مه د مخالفینو ویاند داکتر عبدالله وویل چی: موږ په هغه حکومت کی گډون نه کوو چی مشری یی د طالبانو په لاس کی وی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ٦ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ٤ مه د مخالفینو یو تن مشر حاجی عبدالقدیر وویل چی: قدرت باید دریم کس ته تسلیم شی او مخالفین دغه کار ته چمتو دی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۷ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۵ مه په کندهار کی په یو تن قاتل باندی د قصاص حکم عملی شو.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۱۰ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۷ مه د لوی نیکمرغه اختر لومړی ورځ وه عالیقدر امیر المومنین په خپل رادیویی پیغام کی خلکو ته د لوی اختر مبارکی وویله او وی ویل چی: د امریکا د کروز توغندیو په وراندی په مقاومت وکړی او هیڅ داسی کار به ونه کړی چی د افغانانو د شرمنده گی سبب شی. عالیقدر امیر المومنین د اختر لمونځ په خپل امامت د کندهار په جامع جومات کی اداکړ.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۱۰ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۷ مه د سرپرستی شورا رئیس محترم الحاج ملا محمد ربانی په کابل کی د لوی اختر د لمانځه له اداکولو وروسته د اسلامی امارت سپین بیرغ په ارگ باندی وځړاوه.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۱٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۱۱ مه د مخالفینو څلور تنه قوماندانان د ۱۰۵ تنو وسله والو کسانو او ۳۰ آسونو سره د فاریاب په ولایت کی د اسلامی اردو سره یو ځای شول.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۱٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۱۱ مه په امریکا کی د هالیود په کمپنی کی د افغانستان له ښځو سره د مرستی په نامه یوه غونډه جوړه شوی وه چی نوموړی غونډی ته د امریکا جمهور رئیس بل کلنټن یو پیغام ورولیږه خو د دغی غونډی د غندنی له امله په امریکا کی افغانی مسلمانو ښځو هم مظاهره وکړی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۱۷ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۱٤ مه د امیر المومنین په توگه د محترم ملا محمد عمر «مجاهد» د ټاکنی دریمی کالیزی سره برابره وه او له دغی نیکمرغی ورځی له امله یو شمیر قوماندانانو، وزیرانو او د قومونو مشرانو خپلی مبارکی را ولیږلی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۱۷ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۱٤ مه د فاریاب په ولایت کی د مخالفینو لس تنه قوماندانان چی په غرونو کی پټ شوی وو د خپلو وسله والو کسانو سره د اسلامی اردو ځواکونو ته تسلیم شول.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۱۷ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۱٤ مه عالیقدر امیر المومنین په یوه وینا کی په یوگوسلاویا کی د کاسووا په البانیی نژادو مسلمانانو باندی د ناتو حملی وغندلی او له ملگرو ملتونو نه یی وغوښتل چی د کاسووا له مسلمانانو سره خپلی مرستی زیاتی کړی

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۲٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۲۱ مه عالیقدر امیر المومنین له مخالفینو سره د عشق آباد د موافقی له لاسلیک نه وروسته له مخالفینو سره د خبرو دوهم پړاو ناشونی وباله دا ځکه چی مخالفین د یوی واحدی اداری لاندی کار نه غواړی او هر یو ځانته قوماندانی غواړی خو اسلامی امارت نه غواړی چی غله او داړه ماران په خپل حکومت کی شریک کړی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۲٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۲۱ مه د بهرنیو چارو وزارت یوه اعلامیه صادره کړه او په تاجکستان کی یی د افغانستان په ضد د روسیی د نوی نظامی هدی جوړول وغندل او د روسیی دغه کار یی په سیمه او نړی کی سولی ته یو گواښ وگاڼه

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۲٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۲۱ مه په هرات کی د محکمی له حکم وروسته په یو تن قاتل باندی د قصاص حکم عملی شو.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۲٤ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۲۱ مه د شریعت غږ رادیو د کنفرانسونو په تالار کی د هیواد د شاعرانو په گډون د رحمان بابا پسرلنی مشاعره وشوه.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۲۸ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۲۵ مه د امریکا د سنا په مجلس کی د افغانستان په باب یوه استماعیه غونډه وشوه په دغه غونډه د امریکا سناتور دینا روتابکر غیر مسوولانه څرگندونی وکړی، خو د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال کارل اندر فرت د دنیا روتابکر خبره رد کړه او وی ویل چی امریکا د طالبانو پلوی نه کوی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د ذوالحجی په ۳۰ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۲۷ مه د روسیی جمهور رئیس یلتسین په ماسکو کی د تاجکستان د جمهور رئیس امام علی رحمانوف سره په تاجکستان کی د روسیی د نظامی هدی د جوړولو موافقه لاسلیک کړه او په دغه ډول د افغانستان په ضد روسیی رسماً ځیله نظامی هده جوړه کړه

د ۱٤۲۰ هـ ق کال د محرم الحرام په لومړی نیټه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۲۸ مه د ختجانو په لومړی کرسه کی د مخالف قوماندان سید میرزا د طالبانو سره په یو ځای کیدو ۱۳۰ تنه وسله وال کسان دری ټانکونه او نور مهمات طالبانو ته تسلیم شول

د ۱٤۲۰ هـ ق کال د محرم الحرام په ۳ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۳۰ مه د عالیقدر امیر المومنین په نامه د پاکستان د صدراعظم محمد نواز شریف پیغام په داسی حال کی مخابره شو چی د هغه د سواری الوتکه د افغانستان له فضا څخه تیریدله.

د ۱٤۲۰ هـ ق کال د محرم الحرام په ۳ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د حمل په ۳۰ مه د ملگرو ملتونو د امنیت شورا له اسلامی امارت نه وغوښتل چی د مخالفینو سره د روغی جوړی خبری بیا پیل کړی.

د ۱٤۲۰ هـ ق کال د محرم الحرام په ۵ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د ثور په ۱ مه په بدخشان کی د ربانی او مسعود د افرادو په ضد قیام شوی و قیام کوونکو د فیض آباد ښار او هوایی ډگر ونیولی و او د شورای نظار ۲۵ تنه یی وژلی وو.

د ۱٤۲۰ هـ ق کال د محرم الحرام په ۷ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د ثور په ۳ مه د پکتیا د جانی خیلو په ولسوالی کی په یو تن قاتل باندی د محکمی له حکم وروسته د قصاص حکم عملی شو. همدا رنگه د کابل په غازی استدیوم کی په دوه تنو شوکمارانو شرعی حد جاری شو.

د ۱٤۲۰ هـ ق کال د محرم الحرام په ۷ مه د ۱۳۷۸ هـ ش کال د ثور په ۳ مه په واشنگټن کی د ناتو د تړون د پنځوسمی کالیزی د لمانځلو په وخت کی د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر شیخ مرادوف وویل: په افغانستان کی د طالبانو ځواک یو رښتینی ځواک او واقعیت دی.

پاتي لري

سفر نامه

از کابل تا تاشکند

دیپلماسی فعال امارت اسلامی افغانستان

در اجلاس گروه ۲+٦ منعقده تاشکند (۱٤)

احمد ضیا "شریفی"

بازدید از سمرقند

روز سه شنبه مورخ ۲۰ جولاي ۱۹۹۹ بعد از آنکه مذاکرات رو در روي با مخالفین ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به پایان رسید طبق پروگرام که قبلاً براي مان داده شده بود ساعت ۱۱ هوتل را به قصد میدان هوایي جهت رفتن به سمر قند ترك گفتیم زمانیکه در میدان هوایي از موتر پیاده شدیم و به طرف طیاره روان بودیم دیدم که داکتر عبدالله که یك ساعت قبل با ما مذاکره داشت و ملبس به دریشي فولادي و نکتایي سرخ بود، لباسهایش را عوض نموده و جمپرك آبي با پطلون رنگ رفته دیگر که معلوم بود از لیلامي خریده است به تن داشت با خود فکر کردم که اینجا بخاطر حل معضله افغانستان آمده ایم یا نمایش دادن لباس آنهم لیلامي ! و یکباره به یاد یك عکس او در یك مجله افتادم که او را به سخریه گرفته و هجو کرده بود. خوب به هر صورت به طیاره بالا شدیم نفر موظف متقي صاحب را به کابین VIP که در آن وزیر خارجه ازبکستان بود رهنمایي نمود و باقیمانده همه به سالون دوم توسط ستیوردس رهنمایي گردیدیم.

ساعت ۱۲:۰۰ ظهر طیاره از میدان هوایي تاشکند پرواز نمود مدت پرواز از تاشکند الي سمرقند ٤٥ دقیقه را در برگرفت. در مسیر راه تاشکند- سمرقند با مهماندار ما آقاي عثمانوف صحبت هاي خیلي دلچسپ در مورد گذشته سمرقند و بخارا داشتم.

سمرقند و بخارا از جمله شهر هاي قدیمي ماوراء النهر شمرده میشود. این دو شهر پهلوي هم در میان سیحون و جیحون قرار گرفته و سمرقند به سیحون و بخارا به جیحون نزدیکتر است.

سمرقند در عهد اسلامي از شهر هاي مهم تولید کاغذ بود و بخارا به تولید مفروشات شهرت داشت. در عهد سامانیان، نصر بن احمد ساماني در سمرقند و اسمعیل بن احمد ساماني در بخارا مي زیست.

از زمان اسمعیل بن احمد به بعد پایتخت سامانیان بلخي بخارا بود تا اینکه به وسیله ایغور ها سلسلهٔ ساماني از سمرقند و بخارا برچیده شد و ایغور ها در آنجا مسلط شدند.

در اواخر سده، چهارم که مرکز خراسان، غزنه قرار گرفت سلطان محمود غزنوي تسلط اویغور ها را از سمرقند و بخارا دور ساخته آنها را به حیث دو شهر مهم خراسان در تشکیلات دولت غزنوي داخل کرد.

سمر قند و بخارا از جهت داشتن اماکن مقدسه و موجودیت شخصیتهاي بزرگ مذهبي و علمي نظیر امام بخاري محدث مشهور جهان اسلام در میان کشور هاي اسلامي از ارزشمندي خاصي برخوردار است.

قابل یاد آوریست که آنچه به نام ازبکستان و تاجکستان یاد مي شود قبل از تجاوز روسها در آنجا به نام سمرقند و بخارا شهرت داشت که با آمدن روسها آخرین پادشاه بخارا به افغانستان پناهنده شد که شکریه «رعد» ژورنالیست معروف که فعلا در رادیو صداي امریکا به صفت نطاق ایفاي وظیفه مینماید فرزند آخرین پادشاه بخارا میباشد. سمرقند، در عهد امیر تیمور مرکز دولت تیموریان بود و کانون بزرگ علمي شمرده میشد.

ساعت ۱۲:۳۲ بود که طیاره به میدان هوایي سمرقند نشست نمود از طیاره پایین شدیم و در موتر هاي سرویس خیلي قشنگ سوار شدیم و موتر حرکت نمود.

سمرقند یك شهر زراعتي و سرسبز است و اکثر در دو طرف سرك زمین هاي زراعتي و درختان زرد آلو به نظر مي خورد. مردم سمرقند نسبت به تاشکند هویت ملي خود را بیشتر حفظ نموده اند.

آرامگاه امام المحدثین ابو عبدالله محمد بن اسماعیل البخاري «رح»

در سمرقند زیارت محدث مشهور جهان اسلام ابو عبدالله محمد بن اسماعیل البخاري «رح» است اول به زیارت امام بخاري صاحب رفتیم.

در سفر سمرقند یکتعداد ژورنالستان تلویزیون هاي مختلف با ما همراه بودند و از جریان بازدید از زیارت امام بخاري فلمبرداري مي نمودند و در تمام جا ها لینز کمره ها متوجه هیأت امارت اسلامي افغانستان بود.

در صحن حویلي زیارت از طرف امام مسجد و متصدي مدرسه استقبال صورت گرفت. زیارت امام بخاري داراي یك مدرسه، مسجد، سالون مجلس و کتابخانه بود اولاً از سالون مجلس و بعداً از کتابخانه آن دیدن نمودیم. در کتابخانه یك مقدار کتب اسلامي به مشاهده میرسید مسؤل کتابخانه به متقي صاحب و هیأت دیگر کشور ها در مورد تشریحات میداد. وي گفت: در این کتابخانه میراث معنوي بخاري و چاپ قرآنکریم ۴۳ دولت اسلامي موجود است. یکتعداد قرآنکریم را که از طرف رؤساي جمهوري بعضي از کشور ها طور تحفه به کتابخانه امام بخاري داده شده بود براي متقي صاحب نشان داد. در اخیر زمانیکه از کتابخانه خارج میشدیم مسؤل کتابخانه یك یك جلد بولتین که در آن تصاویر زیارت، مدرسه، مسجد و مسلمانان ازبکستان حین اداي نماز در مسجد امام بخاري مزین بود طور تحفه برایمان دادند و از متقي صاحب خواهش نمود در کتابیکه به همین منظور گذاشته شده بود امضاً نماید. متقي صاحب قلم را در لابلاي انگشتانش قرار داد و جملات ذیل را در آن کتاب رقم زد:

«اللهء ج» دي د امام بخاري د خدمتونو په برکت نبوي حدیث په دي خاوره کي دوام داره ولري. اللهء ج» دي رخپل دین نصرت په خپله وکړي. الله «ج» دي په دي خاوره کي د بخاري فکر ژوندي ولري. موږ چي د روسانو له شکست نه وروسته دلته راغلو دا د اسلامي نړي د پاره ستر افتخار او د افغانانو د میړاني او جهاد برکت بولو.

والسلام

ملا امیر خان «متقي»

د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او فرهنگ وزیر

امضاً

«۱٤۲۰/٤/۸»

سپس به طرف مقبره امام بخاري رفتیم و در آنجا در منزل تحتاني که اصل مرقد وجود داشت از طرف امام مسجد رهنمایي گردیدیم و در آنجا متقي صاحب و دیگر حاضرین به ارواح امام بخاري اتحاف دعا نمودیم.

اداه دارد

د کابل ښار د دریمې ناحیې پ مربوطاتو ...

جریان کی ۱۸۷۲۵ متره لښتی ایستل شوی ترڅو د ژمی په موسم کی د بارانونو د اوریدو له امله ددغې ناحیې اوسیدونکی له مشکل سره مخامخ نشی چی ددغه کار په کولو سره د نوموړی ناحیې په سل ګونو اوسیدونکو ته د کار زمینه برابره شوی د نوموړو کارونو پولی مصارف د IAM موسسی لخوا برابره شوی و چی نوموړی موسسی پرته له دی ۲۳۲۱ د غیر عصری تشنابونو په جوړولو کی د نوموړی ناحیې او ددغې جګړی ځپلی سیمی له خلکو سره مرسته کړی چی د نوموړی کار په کولو سره هم ۱۱۰۰ نفرو ته د کار زمینه برابره شوی محترم مجددی زیاته کړه د پاملرنی موسسی هم د نوموړی ناحیې په مربوطاتو کی ۲۹۲۸ تشنابونه ددغه ځای د خلکو د پاره جوړ کړیدی دا باید زیاته کړم چی د دریمی ناحیې تقریباً ۷۰٪ ساحه یعنی دولتی اداری او کورونه تعلیمی او تحصیلی موسسی ټول د خاورو سره خاوری شوی او دغه ساحه په یوه غیر مسکونی سیمه او کنډواله بدله کړای شوی وه چی ددغو کورونو پاکول البته د هبیتات د موسسی له خوا پیل شوی چی په نوموړی جریان کی به ددغې سیمی اکثریت کورونه پاک شوی چی له نوموړی پروسی څخه به وروسته د شلټر پروګرام شروع شی چی په نوموړی پروګرام کی د هر کور لپاره ۱۰۰۰۰ قالبه خښتی دوه کړکۍ او دوه دروازی او یا د پوشش لپاره تختی او لرګی ورکول کیږی همدارنګه د جرمن اګرو اکشن موسسه د کورونو د پوشش کولو لپاره یوه کاری ډله یعنی یو نفر معمار یو نفر نجار اته نفره مزدور کاران دوه کړکۍ دوه دروازی د پوشش تختی او لرګی مرسته کوی او وران شوی کورونه جوړوی البته په یو ډول سپارښتی سره همدارنګه په دی وروستیو وختونو کی د سره صلیب ټولنی تولنی یوه عمومی کثنه د څښاک د اوبو د نلونو له پره د کثافت دانیو د جوړولو او د سرکونو ترڅنګ د ویالو د جوړولو له پاره پیل کړی و چی د پلټنی کار **بی ختم شوی او د عملی کار په صورت کی به د ۵۰۰ کسانو له پاره د کار زمینه برابره شی.**

محترم مجددی په پای کی وویل : د اوس له پاره یوازی د هبیتات موسسه د Recy-cling او Shelter شلټر یعني هغه پروګرام چی پخوایی پیل کړی و کار کوی او نورو موسسو هم د مرستی وعده راکړی خو تر اوسه یی متاسفانه عملی کار نه دی پیل کړی. د کابل ښاروالی دریمه ناحیه د خپل توان او قدرت په ساحه کی ددغې ناحیې د اوسیدونکو له پاره هر ډول همکاری ته حاضره ده.

ما د دکتورا مرحله د نهو کالو پر ...

پوښتنه : د مهربانی له مخی لومړی به خپل ځان د شریعت خپرونی درنو مینه والو ته پوره وپیژنی ؟

ځواب: زه عبدالملک کاموی د مولوی عبدالعلی کاموی ځوی او د حضرت مولوی **غلام نبی کاموی لمسی، د ننګرهار ولایت د کامی د ولسوالی د سنګر سرای د کلی څخه** یم.

پوښتنه : د خپلو زده کړو په باب معلومات راکړی ؟

ځواب : لومړنی زده کړی می د کابل په لومړنیو ښوونځیو کی پیل کړی بیا د امام ابو حنیفه «رح» په مدرسه کی شامل شوم، د مهاجرت په بهیر کی می د دعوت او جهاد پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځی څخه په اعلی درجه لیسانس ترلاسه کړو او له هغه وروسته مصر ته د لوړو زده کړو لپاره لاړم او هلته می په فقه مقارن یا (حقوق مقایسوی) کی د الازهر پوهنتون د شریعت او قانون د پوهنځی څخه ماستری ترلاسه کړه او اوس اوس چی د دکتورا رساله بشپړه کړی چی د رسالی د چاپ او د مناقشی او دفاع انتظار باسم.

پوښتنه : تاسو چی ماشاء الله په ۲۹ کلنی کی په دی وتوانیدی چی خپله دکتورا بشپړه کړی که خپلی د ماستری د دوری او بیا د دکتورا د دوری د رسالو په هکله څه رڼا واچوی!

ځواب : د ماستری د دوری په باب درته عرض وکړم چی د الازهر په پوهنتون کی د ماستری دوره شپږ کاله وخت لری او زه د الله پاک په مرحمت او د خپلو زیارونو په نتیجه کی په دی وتوانیدم چی شپږ کلنه دوره په دریو کلونو کی بشپړه کړم او د دوکتورا د مرحلی په هکله باید عرض وکړم چی ددغی مرحلی قانونی نیټ تر نهو کلنو پوری تاکل شوی او زه لله الحمد بریالی شوم چی دغه مرحله په دری کلونو کی بشپوره کړم، یادونه باید وشی چی د ماستری د دوری رساله چی د «معاملاتو کی د ضامن د لاس د مسوولیت انداز» تر عنوان لاندي کښلي او د دوکتورا رساله می د «استرداد او د هغه اغیزه په حقوقی معاملاتو کی» تر عنوان لاندی لیکلی ده.

پوښتنه : پرسیره په زده کړو نور څه مصروفیتونه لری ؟

ځواب : د دکتورا د کتاب د بشپړولو په څنګ کی زه له ځینو علمی او فقهی موسسو سره چی د هغوی دنده د معاصری فقهی ځیړل او هغه مسایلو ته چی زمونږ د ننی عصر سره اړه لری او د غو مسایلو ته د قران عظیم الشان، سنت رسول مقبول «ص» او د سلف صالحینو په رڼا کی د اسلامی او فقهی حل پیدا کول دی . قلمی او علمی همکاری لرم چی لله الحمد تر اوسه چی څلور فقهی بحثونه په «مجلة المبحوث الفقهیه المعاصره» کی چاپ شوی دی.

همدارنګه زه د کویت د اوقافو د وزارت د علمی او فقهی مجلی سره قلمی همکاری لرمه، د ازهر له مجلی سره قلمی همکاری لرمه چی همدا اوس می په همدغه مجله کی «د فقهی اجهاد او د هغی ضوابط» تر نامه لاندي یو بحث د چاپ لاندی دی.

پوښتنه : ستاسو دغه لیکل شوی بحثونه له کومو مسایلو سره اړه لری که لنډه رڼا واچوی ؟

ځواب : زما دغه بحثونه په بیلا بیلو برخو کی لیکل شویدی او زیاتره په هغو برخو کی دی چی د نن ورځی مسلمان او په تیره بیا زمونږ مسلمان ملت ورسره مخامخ دی لکه بیع وفا «ګروی» او د هغه معاصره تطبیقات، مضاربت او د هغه تطبیق په اسلامی بانکو کی سلم او د هغه معاصره تطبیقات، د قسط بیع او د هغه ضوابط په اسلامی فقه کی او همدا اوس می دغه بحثونه چاپ ته تیار دی. د اسلام د نظره د انسان د اعضاو پیوند، د پیسی بی ارزښته کیدل او د هغه اغیزه په اقتصاد باندی، مرتبه کیږی.

مراد

به سلسله راه اندازي ...

-الشأن آغاز گردید . سپس بیانیه افتتاحیه در رابطه بموضوع توسط الحاج مولوی محمد اسحق «قانت» رئیس معارف ولایت کابل ایراد گردید. متعاقب آن مرحله اول برنامه مسابقه بین شاگردان مدارس آغاز شد که درین دوره برای اول نمره ها و دوم نمره ها و سوم نمره ها جوایز نقدی توزیع گردید.

در مرحله دوم مسابقات به سطح ولسوالی برای برندگان درجه اول و دوم و سوم تحایف شامل یك جلد قرانکریم ، یك لنګی ، یك کلاه و یك مسواك بالترتیب درجات شان توزیع گردید.

در اخیر محفل بر سر یکتن از طالب العلمان اول مره به سطح ولسوالی دستار بسته شد. و اجتماع متذکره با دعائیه محترم مولوی محب الله استاد مدرسه ابوذر غفاری «رض» اختتام یافت . سلسله مسابقات علمی در مدارس ولسوالی های ولایت کابل ادامه دارد .

در اهداف امارت اسلامي ...

و مسایل امنیتي کشور که در حال بهبود و ثبات بیشتر میباشد صحبت نموده و این موضوع را به وضاحت بیان داشت که در اهداف امارت اسلامي افغانستان تبعیض قومي، لساني و نژادي جاي ندارد و تمام اقوام ساکن کشور با هم برادرند. و مردم افغانستان به هیچ نیرو و عنصر اجازه نمیدهند که باشنده گان متحد و یك پارچه این کشور را به خاطر اهداف و منافع ناروا و شوم شان به نام و عنوان رنگ، نژاد ، ملت و لسان از هم جدا نمایند.

موصوف گفت : که مردم مجاهد و مسلمان افغانستان کاملاً این موضوع را درك نموده است که خواسته ها و اهداف شان توسط امارت اسلامي افغانستان تحقق یافته و تحت قیادت امارت اسلامي بخاطر دفاع از ارزشها و دستاورد هاي آن حاضر به هرگونه مجاهدت و همکاري میباشد.

در همین ملاقات مسوولین ولایت بامیان در رابطه به وضع امنیتي ولایت بامیان که لله الحمد از آرامش و ثبات مطمئن برخوردار میباشد به محترم سرپرست وزارت امور داخله معلومات همه جانبه داده و اطمینان بعمل آوردند که امور اداري و امنیتي آن ولایت در تشریك مساعي با مردم ولایت بامیان به وجه احسن و نیك پیش برده میشود مسؤولین و کارکنان امارتي لایت بامیان در خدمت باشنده گان آنولایت قرار دارند .

په پاکستان کي پوځ ...

صوبې د ګورنر کور، دولتی تلویزیون او راډیو او مهمی دولتی ځانګی د پوځ او ملیشو لخوا محاصره شوی دی،

په پیښور کی د ګورنر په کور، مهمو دولتی ځایونو، راډیو او تلویزیون باندی د پوځ له خوا قبضه لګول شوی ده

د نصر الله بابر له قوله ویل شوی دی چی نواز شریف په خپل کور کی کلابند او یا ګرفتار کړای شوی دی. خو دا د هغه دعوه ده او تائید شوی نه ده او افواګانی دی . په کراچی کی د تلویزیون خپرونی پیل شوی دی . په لاهور او کراچی کی څو تنه پوځی مشران هم نیول شوی دی.

چگونگي کار و فعالیت ...

مصروف باز دید از پروژه ها و مؤسسات آن ولایت در صفحات شمال کشور است دیروز از فابریکات سمنت غوري و فابریکه نساجي پلخمري باز دید نموده ضمن دیدار با کارگران و منسوبین فابریکات متذکره از کار و فعالیت آنها ابراز قدرداني نموده ایشانرا بکار مزید و بلند بردن سطح تولیدات تشویق بیشتر نمود.

یك منبع مربوط به آژانس اطلاعاتي باختر گفت فابریکه سمنت غوري که در سال ۱۲٤۳ به فعالیت خویش آغاز نموده است در ۲٤ ساعت چهار صد تن سمنترا تولید مینماید که داراي مارك چهار صد الي چهار صدو پنجاه میباشد و در آن فعلاً هفتصد و نزده نفر پرسونل فني مصروف کار و فعالیت تولیدي میباشند.

منبع افزود : وسایط و ماشین آلات این فابریکه در ده سال قبل به ارزش ملونها دالر تهیه گردیده بود در دوران رژیم هاي گذشته قسماً تخریب و از بین برده شده بود که بالاثر توجه مزید امارت اسلامي قسمتي اعظمي این فابریکه مجدداً فعال و به بهره برداري سپرده شد.

منبع افزود : فابریکه سمنت غوري که قبلاً نیمه فعال بود اکنون به اثر توجه و مواظبت دایمي امارت اسلامي داشهاي تولیدي آن مجدداً فعال گردیده که با فعال شدن داشهاي این فابریکه در تولید سمنت ۰ صد فیصد افزایش بعمل آمده است .

هکذا فابریکه نساجي پلخمري که با داشتن ۱۲۰۰ کارگر فعالیت مینماید داراي بخش هاي مختلف بافت تکه بوده و در آن فعلاً بیش از چهار صد پایه ماشین بافت فعال بوده و در نظر است تا سایر ماشین آلات آن فابریکه توسط کارگران فني و تخنیکي عنقریب فعال و به بهره برداري سپرده شود. تولیدات این فابریکه روزانه از هشتاد الي یکصد هزار متر تکه بوده و در نظر است تا در تولیدات آن تغیرات قابل ملاحظه بی بمیان آید.

د سري میاشتي ...

همکاري له امله خوښي څرګنده کړه او زموږ له بي وزلو هیوادوالو سره د مرستو بهیر د ګرندیتوب په باب ددغو موسسو کاري شاخصونه بي څرګنده کړل .

نیم ملیون عراقي ...

ملیون عراقي ماشومان چي عمر یې له پنځو کلونو نه زیات نه دي مړه شوي دي.

د عراق دولت د ماشومانو د مړیني سبب **په دغه هیواد باندي د ملګرو ملتو له خوا د بندیزونو دوام سودلي دي.**

خبر حاي زیاتوي چي د یونیسف د اداري عمومي رئیس بغداد ته د تلو په حال کي دي چي د ماشومانو حالت په خپله وحیري.

اطلاعیه ...

حسابات خویش را با معامله داران تصفیه نمایند.

هنگامیکه هیأت تصفیه در ساحه به کار عملي آغاز نماید هیچ نوع اسناد آنها قابل سمع نمي باشد.

همچنان به تعقیب اطلاعیه هاي قبلي یك بار دیگر به اطلاع عموم هموطنان رسانیده میشود که خرید و فروش زمین در ساحات متذکره قطعاً جایز نبوده و اگر به چنین عمل دست زده شود غیر قانوني شمرده میشود.

د ګوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

امارت اسلامي افغانستان و ثبات منطقه

روزنامه الحیات چاپ لندن اخیراً مصاحبه یي را با آقاي جسونت سنگهـ وزیر امور خارجه هندوستان انجام داده چون اظهارات موصوف در رابطه به مواقف امارت اسلامي افغانستان و تأثیرات آن بالاي ثبات منطقه با حقایق و واقعیت هاي عیني در تضاد کلي واقع بوده لازم است تا اندکي مورد تحلیل و تجزیه قرار گیرد.

اگر به پالیسي و عملکرد هاي حکومت متعصب بي جي پي در دوران حکمروايي اخیر شان توجه صورت گیرد به وضاحت دریافت مي گردد که هندو ها با اتکاء به حمایت بعضي حلقات کفري جهاني سیاستي را در منطقه در پیش گرفته که نه تنها ثبات منطقه را در خطر انداخته است، بلکه موازین بي شمار بین المللي را زیر پا کرده و جنوب شرق آسیا را به نابودي تهدید مي نماید، آزمایشات اتومي هند طي حکومت بي جي پي و عدم آماده گي هندوستان به امضاً منع آزمایشات اتومي در منطقه خود گواه این حقیقت است که هندوستان بمنظور کسب سیادت نظامي و سیاسي در منطقه حتي تباهي همه منطقه را هم به هیچ شمرده و هر لحظه به استفاده از سلاح هاي ذروي و نابودي ممالك جنوب شرق آسیا آماده گي دارد. ثبات منطقه که آقاي جسونت سنگهـ آنرا ورد زبان خود ساخته در برابر آماده گي هند به آغاز جنگ اتومي در منطقه از هیچ نگاه قابل مقایسه نبوده و نتایج آن نیز با یکدیگر شباهتي ندارد، اگر به گفته آقاي مذکور امارت اسلامي افغانستان به اصطلاح عامل خطر به ثبات در منطقه باشد پس آماده گي هند به جنگ اتومي در منطقه حمایت از ثبات خواهد بود !!

حملات وحشیانه قواي هندي بر کشمیریان و تجاوز بر مناطق کشمیر آزاد نمونه دیگر تشنجافز ایي حکومت هند در منطقه میباشد که بدون شك حملات متذکره باعث ایجاد نا آرامي ها در سرحدات هند با پاکستان شده و هر لحظه احتمال درگیري قواي هندي و پاکستاني را قوي مي سازد و این امر خود ضربات مستحکمي است که از جانب حکومت هند بر پیکر ثبات در منطقه وارد میگردد و باز آقاي جسونت سنگهـ کرده هاي خود و حکومت خود را نا دیده گرفته و امارت اسلامي افغانستان را به چیزي متهم مي سازد که خود هندو ها مرتکب آن مي گردند، البته بدون شك اقاي جسونت سنگهـ با اظهارات متذکره خویش تلاش دارد تا برف بام هاي خو را بر دیگران انداخته و توجه جهانیان را از خود به جانب دیگر متوجه سازد.

پالیسي و مواقف صلحجویانه امارت اسلامي افغانستان در منطقه اظهر من الشمس است امارت اسلامي افغانستان از بدو تأسیس تا امروز همواره تلاش ورزیده تا جلو همه عواملي را که احتمال میرود باعث بي ثباتي در منطقه گردد، بگیرد مشکلات داخلي خویش را، الحمد لله در حال رفع نمودن کامل است، با همسایه گان خویش روابط دوستانه را خواهان بوده و به حل همه مسایل از طریق تفاهم و منطق معتقد مي باشد. هیچگاهي به عملي دست نه زده که باعث ایجاد کدام بحران در منطقه گردد در امور دیگران مداخله را مردود مي داند، براي تحکیم صلح و امنیت در منطقه حاضر به مذاکره با همه جوانب منطقوي و بین المللي میباشد، آقاي جسونت سنگهـ باید بداند که جهانیان و ملل منطقه از زدو بند هاي اخیري که حکومت هند بخاطر حاکمیت بر منطقه با اسرائیل و غیره کشور هاي توسعه طلب براه انداخته است غافل نبوده و همه درك کرده اند که این حکومت هند است که بي ثباتي منطقه را خواهان است نه دیگران، زیرا عدم توافق هند ، امضاء قطع آزمایشات ذروي در منطقه تجاوزات پیهم نظامي بر کشمیر و بستن پیمانهاي مخفي با اسرائیل و غیره توسعه طلبان، بمنظور بدست گرفتن ژاندارم منطقه یکسره دلایل واضحي است که نیت شوم هند را در برابر تداوم ثبات در منطقه روشن مي سازد اگر چنین نیست آقاي جسونت سنگهـ باید غرض برائت حکومت خویش جواب بگوید !

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Emirat Printing Press